هفته واره رساله

د امیرِ اهلسُنّت تقریباً 34 کاله مخکښینے بیان

# د ذِکرُ الله واقعې

پهٔ ملا باندې د کوړې تخنبه

د کوني کانجر شرعي حُکم

د مهیانو د نیوونکو واقعه

د رَشک قابل خلق څوک؟

شیخ طریقت، امیر اهلِ سنت، بانيِ دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د ذِکرُ اللّٰه واقعات

**دُعائے عطّار:** اے کريم ربه! څوک چې دا رساله ”**د ذِکرُ اللّٰه واقعات**“ ولولي يا واوري هغهٔ ته پهٔ دواړو جهانو کښې سکون او ارام عطا کړې او هغه سره د مور او پلاره او خاندانه جَنَّتُ الفِردوس ته بے حسابه داخِل کړې. اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

**د اللّٰه پاک د اخري نبي، مکي مَدَني** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې د شوق او محبت پهٔ وجه پهٔ ورځ او شپه کښې پهٔ ما باندې درې درې کرته دُرُودِ پاک ولوستو پهٔ اللّٰه پاک باندې حق دے چې د هغهٔ د هٰغې ورځې او شپې ګناهونه اوبخښي. (معجم کبير، 362/18، حديث: 928 ملتقطاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## سَیِّدُنا جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه او مرغۍ

د مشهور ولِيُّ الله حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه پۀ خدمت کښې چا يوه مرغۍ د تحفې پۀ توګه پيش کړه، هغوئي هغه د ځان سره وساتله خو بيا يې ډيره زر ازاده کړه- د هغوئي پۀ خِدمت کښې عرض اوکړے شو: تاسو دا ولې ازاده کړه؟ وه يې فرمائيل: دې مرغۍ ما ته ووئيل: اے جنيده! تاسو پخپله خو پۀ ازادۍ سره هر طرف ته تللے شئ، د خپلو خپلوانو او دوستانو سره ملاقات هم کوئ خو تاسو زۀ قيد ساتلې يم، ما هم ازاده کړئ چې زۀ هم د خپلو دوستانو سره ملاقات اوکړے شم او پۀ ازادۍ سره والوزم- پۀ دې خبره اوريدو ما هغه ازاده کړه-

جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: کله چې ما هٔغه مرغۍ ازاده کړه نو هغې ما ته ووئيل: اے جنيده! زۀ ځکه قيد کړے شوې ووم چې زۀ يوه ورځ د الله پاک د ذِکر نه غافله شوې ووم، زۀ ستاسو سره وعده کووم چې بيا به چرې هم د الله پاک د ذِکر او د هغۀ د ياد نه نۀ غافله کيږم، اے جنيده! زۀ صرف يوه ورځ د الله پاک د ذِکر نه غافله شوم نو د هٔغه جرم سزا ما ته د قيد پۀ شکل کښې ميلاؤ شوه نو د هٔغه اِنسانانو به څۀ کيږي کوم چې ټول عمر د الله پاک د ياد نه غافله اوسي؟ د نصيحت کولو نه پس هٔغه مرغۍ والوتله-

علامه صَفوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې واقعې لاندې فرمائي: هُغه مرغۍ به بيا بيا د حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خوا له راتلله او د هغوئي سره عادت شوه د دې پورې چې هغوئي به کله په دسترخوان باندې ډوډۍ خوړله نو هغه به راتلله او په دسترخوان باندې به ورسره کيناستله او د هغوئي سره به يې خوراک کولو او پوتې به يې راټولول- کله چې حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وفات شو نو هُغه مرغۍ په زمکه راپريوتله او لړزيدله، لړزيدله او هغه هم مړه شوه- د حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د وفات نه پس چا هغوئي په خوب کښې وليدلو او پوښتنه يې ترې اوکړه: مَافَعَلَ اللهُ بِكَ؟ يعني الله پاک ستاسو سره څهٔ معامله وفرمائيله: حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اِرشاد وفرمائيلو: ما په يوه بے زبانه مرغۍ باندې رحم اوکړو نو الله پاک په ما باندې هم رحم اوکړو- (نزهة المجالس، 20/1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې ايمان تازه کوونکې واقعې نه مونږ ته ډير مَدَني ګلونه حاصل شول په کومو کښې چې يو څو ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کولے شي:

**﴿1﴾** کومه مرغۍ چې د الله پاک د ذِکر نه غافله شي هغه قيد کيږي- د جماداتو او نباتاتو معامله هم څهٔ داسې ده، نو په حديثِ پاک کښې دي: وَنه په تبرګې هُغه وخت وهلے کيږي کله چې هغه د الله پاک د ذِکر نه

غافله شي- (مصنف ابن ابی شیبه، 146/8، حدیث:11) پهٔ دُنیا کښې چې کومې مرغۍ او جمادات وغیره دي ټول د الله پاک ذِکر کوي او هر وخت د هغهٔ پهٔ یاد باندې د هغوئي ژبه لـمده اوسي-

﴿2﴾ دویم مَدَني ګل دا حاصل شو چې د الله پاک پهٔ عطا سره اولیائے کرام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم د مرغو سره خبرې کوي او د هغوئي پهٔ خبرو باندې پوهيږي-

﴿3﴾ یو مَدَني ګل دا هم حاصل شو چې د ځناورو او د مرغو سره هم ښه سلوک کول پکار دي لهذا چې کوم خلق ځناور ساتي هغوئي له پهٔ دې باره کښې ښه ډیر غور او فِکر کول پکار دي-

## مهیان ساتل

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا خلق د شیشې پهٔ یو وړوکي شان شوکیس کښې د پلاسټک ځهٔ ګلونه اچوي او رنګا رنګ واړه واړه مهیان پکښې ساتي، ځغه واړه واړه مهیان د شوکیس شیشه اوبهٔ ګنړي او لا ر پکښې ګوري او بیا بیا هغې له خپلې خُلې وروړي او کتونکي د هغوئي د دې حرکت نه خوندونه اخلي- داسې خلقو له سوچ کول پکار دي چې دا مهیان پهٔ پراخه سمندر کښې پهٔ ازادۍ سره ګرځي خو دا خواران پهٔ وړوکي شان شوکیس کښې پهٔ ډیره بے دردۍ بند کړے شوي دي-

اګر چې د شیشې په شوکیس کښې مهیان ساتل حرام نهٔ دي خو لږ سوچ اوکړئ! که چرې مونږ په یوه کمره کښې نظر بند کړے شو نو په مونږ باندې به څهٔ تیریږي؟ یقیناً چې د دُنیا د ټولو سهولیاتو باوجود به زمونږ ژوند ګران شي-

داسې د ښُغه مرغو په لیدو هم ډیر ترس راځي کومې چې خلقو په پنجرو کښې قید کړې وي او د هغوئي د الوتو سلسله یې مُنقطِع (یعنې ختمه) کړې وي- دې طرف ته په اِشاره کولو ډاکټر اِقبال څهٔ ښه وئیلي دي:

اے طائرِ لاہوتی! اس رزق سے موت اچھی

جس رزق سے آتی ہو پرواز میں کوتاہی

بهر حال د الله پاک په یو مخلوق باندې بغیر د څهٔ وجهې نه ظلم نهٔ دي کول پکار، هسې نهٔ چې هم دا زمونږ د اخرت د بربادیٔ سبب جوړ شي-

## په پیشو د ظلم کولو عذاب

په حدیثِ پاک کښې دي: یوه زنانه په دې وجه په عذاب کښې راګیره کړے شوه چې هغې یوه پیشو قید کړې وه، نهٔ خو یې په هغې څهٔ خوراک

ښناک کولو او نهٔ يې هغه پرېښوده چې هغه پخپله څهٔ وخوري او ګزاره پرې اوکړي د دې پورې چې هغه مړه شوه- (مسلم، ص1082، حديث:6675)

## مرغو له تکليف مهٔ ورکوئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اګر که مرغۍ ساتل نا جائز او حرام کار نهٔ دے خو که ساتې يې نو د هغوئي د پاره د خوراک ذخيره ساتئ د پاره د دې چې هغوئي خوراک ښناک کوي او هغوئي ته هيڅ قِسمه تکليف نهٔ وي- د څو پورې چې د شيشې پهٔ شوکيس کښې د مهيانو د ساتلو تعلق دے نو دا د شوق نه علاوه څه هم نهٔ دي- غور اوکړئ چې پهٔ قيد کښې به پهٔ دې خوارانو څهٔ تيرېږي؟ دا پهٔ پراخه اوبو کښې بالکل ازاد وي، چرته چې غواړي ځي- تاسو به ليدلي وي چې دا واړهٔ واړهٔ مهيان بيا بيا شيشې له خپلې خُلې وروړي ځکه چې شيشه ټرانسپيرنټ (يعنې د اوبو پهٔ شان) وي کومه چې دوئي اوبهٔ ګڼي، داسې بيا بيا د شيشې سره د خُلې جنګيدو پهٔ وجه چې به دوئي ته کوم تکليف رسي پهٔ هغې باندي اِحساس لرونکے پوهيدے شي- بعضې خلق ډير حساس وي لکه څنګه چې يوه واقعه بيانولے شي چې

## پهٔ ملا باندې د کوړې نخښه

يو ګس خپل اَس پهٔ زوره پهٔ کوړه ووهلو نو هلته ورسره نزدې پهٔ کټ وغيره کښې يو بزرګ تشريف فرما وو چې هغوئي پهٔ دې باندې دومره غمژن

شو چې د هغوئي پهٔ ملا باندې د کوړې نخښه جوړه شوه-

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** که چرې مونږ د الله پاک پهٔ مخلوق باندې رحم کوو نو اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! پهٔ مونږ باندې به هم رحم کولے شي- خو نَعُوذُ بِاللّٰه! که چرې مونږ بے ځایه ظلم کوو نو د قیامت پهٔ ورځ به راګیر شو- یاد ساتئ چې چیلۍ وغیره حلال ځاروي ذبح کول ظلم نهٔ دے ځکه چې شریعت د دې د ذبح کولو اِجازت ورکړے دے خو د دوئي سره د ظلم مختلف شکلونه دي مثلاً د چیلۍ یا د چیلي د ذبح کولو پهٔ وخت دومره ذبح کول چې چاړه د ملا هډوکي یا حرام مغز ته ورسي- یاد ساتئ چې د ملا هډوکے د مرۍ نه واخله د ملا د اخري سر پورې وي پهٔ دې کښې لکۍ شامله نهٔ ده، د دې هډوکي نه یو سپین تار ووځي کوم ته چې حرامِ مغز وئیلے شي د دې خوړل حرام دي خو عام طور خلقو ته د دې پته نهٔ وي- د چانپ او د ملا د غوښې سره سره سپین تار هم راځي او ډیر خلق دا د غوښې حصه ګڼي او خوري یې- که غوښه خرڅوونکے پوهه قصاب وي نو هغه دا سپین تار د غوښې نه لرې کوي او غورځوي یې- د چرګې پهٔ مرۍ کښې هم داسې سپین تار وي کوم ته چې حرامِ مغز وئیلے شي لهذا د دې خوړل هم نهٔ دي پکار-

## بغير د څۀ وجهې نه تکليف رَسَوَل ظلم دے

د څاروي د ذبح کولو پۀ وخت د حرامِ مغز پورې چاړه رَسَوَل بغير د څۀ وجهې نه تکليف ورکول دي ځکه چې پۀ ذبح کولو کښې 4 رګونه پرېکول وي او د ذبح کولو پۀ وخت که چرې درې رګونه يا د څلورو اکثره حصه پرېکړے شي نو بيا به هم ذبحه حلاله شي- (فتاویٰ هندية، 287/5)

## پۀ چيلي باندې د ظلم انداز

ځينې قصابان ليدلے شوي دي خاص طور د قربانۍ پۀ ورځو کښې هغوئي پۀ تادۍ کښې د چيلي پۀ مرۍ باندې چاړه راښکي او بيا سر لږ شان پرېکړي او يو دَم پۀ جټکه د هغۀ څَټ مات کړي حالانکې لا پۀ هغه کښې ساه وي، که چرې دا ظالمان څوک پوهه کوي نو د خپلې غلطۍ د منلو پۀ ځائے اُلټا جنګ جګړې ته تيار شي- داسې خلقو له سوچ کول پکار دي چې که چرې د دوئي څَټ داسې مات کړے شي نو د دوئي به څۀ حال وي! وګورئ چې بے زبانه څاروے کوم چې چا ته هيڅ نشي وئيلے او نۀ چا ته فرياد کولے شي د هغه سره داسې د ظلم نه ډک انداز اِختيارول څومره لوئي جُرم دے!

## پۀ غوا باندې د ظُلم انداز

دغه شان بعضې ظالمان قصابان د غوا د ذبح کولو پۀ وخت د څَټ څرمن

څېرې او چاړه ورمنډې او د هغې د زړهٔ رګونه پرېکوي- لږ غور اوکړئ چې بے زبانه ځاروے د کوم ښېې چې تږلے شوې وي، د راغورځولو نه پس چې ډېرو خلقو هغه نیولے وي او بیا چې لا ساه پکښې وي  د هغهٔ څرمن ویستل، چاړه ورمنډل او د هغهٔ د زړهٔ رګونه پرېکول او بیا پهٔ لاس کښې چاړه راخِستل او د بهادرو پهٔ شان د هغه پهٔ خوا کښې ودریدل لکه چې څهٔ لویه قلعه یـې فتح کړې وي، د ذبح کولو دا انداز یقیناً، یقیناً، یقیناً چې پهٔ ځاروي باندې ظلم او هغه ته بغیر د څهٔ وجهې تکلیف رَسَوَل دي، د کومو خلقو په سینو کښې چې د شفقت نه ډَک زړهٔ وي د هغوئي د پاره دا ډېر د تکلیف کار دے-

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** پخپله او چرته چې ستاسو خبره منلے کیږي هلته د قربانۍ پهٔ موقع داسې ظلم منع کړئ- یاد ساتئ چې د ځاروو پهٔ معامله کښې چې زمونږ زړهٔ همدرد او د شفقت نهٔ ډک وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! زمونږ به ثواب هم کیږي او د معاشرې پهٔ اِصلاح کښې به مدد هم حاصلیږي چې مونږ پهٔ ځاروي باندې شفقت کوو نو پهٔ اِنسانانو باندې پهٔ سر کښې شفقت کول پکار دي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو د بیان پهٔ شروع کښې واوریدل چې حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته یوه داسې مرغۍ پهٔ تحفه کښې پیش کړے

شوه کومه چې د الله پاک د ذِکر نه د غافله کيدو پۀ وجه قيد شوې وه- داسې يوه بله خوندوره واقعه ستاسو پۀ خِدمت کښې وړاندې کووم:

## د اللّٰہ پاک د ياد نه غافله مهيان

يو بزرګ د خپلې وړې لور سره د درياب غاړې ته راغلو او مهيان يــې نيول، هغوئي به مهيان نيول او خپلې لور له به يــې ورکول چې هغه يې پۀ شکرۍ کښې جمع کوي، ډير وخت پس چې کله هُغه بزرګ د ښکار نه فارغ شو نو وه يــې کتل چې شکرۍ خالي ده- هغوئي د ماشومې نه پوښتنه اوکړه چې مهيان چرته دي؟ جواب يــې ورکړو: بابا جانه! تاسو وئيلي وو چې د مچې مار پۀ جال کښې هُغه مهيان انښلي کوم چې د الله پاک د ياد نه غافله وي لهذاتاسو به چې کوم مهيان نيول او ما له به مو راکول نو ما به دا کَتل چې کيدے شي دا هم هُغه مهے وي کوم چې به د الله پاک د ياد نه غافله شوے وي، د هُغه مهي خُله به مې نيوله او هغه ته به مې دا وئيل او پۀ درياب کښې به مې پريښودو چې وګوره! تۀ د الله پاک د ذِکر نه غافله شوې نو زمونږ پۀ جال کښې وانښتلې، اوس زۀ تا له مهلت درکووم بيا د الله پاک د ياد نه مۀ غافله کيږه- د دې سره سره زما پۀ ذِهن کښې دا خبره هم راغلې وه چې هسې نۀ د دې غافلو مهيانو پۀ خوړلو مونږ هم د الله پاک د ياد نه غافله شو-

(نزهة المَجالس، 18/1 ماخوذاً)

د دې واقعې نه دې څوک دا ګمان نۀ کوي چې مهے خوړل حرام دي- ياد ساتئ چې مهے حلال دے، صرف هغه مهے حرام دے کوم چې پۀ اوبو کښې پۀ قدرتي مرګ مړ شي او اُلټا روان شي- (درُّمختار، 511/9)

## د کيکړے (کوني کاټر) شرعي حُکم

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا اُصول پۀ ذِهن کښې ساتئ چې د مهي نه علاوه هر ځناور حرام دے- (بدائع الصنائع، 144/4) کوني کاټر [يعنې خرچنګ] خوړل حرام دي ځکه چې دا مهے نۀ بلکې پۀ اوبو کښې اوسيدونکے يو ځناور دے- (فتاوىٰ رضويه، 208/24)

## کروټې/ميګو(جهينګا) خوړل څنګ دي؟

د کروټې/ ميګو [يعنې جهينګا] پۀ باره کښې د علمائے کرامو اِختلاف دے، ځينې علمائے کرام وائي: کروټه مهے دے، ځينې وائي: کروټه مهے نۀ دے- اعلىٰ حضرت، اميرِ اهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: جهينګا خوړل خِلافِ اَولىٰ دې يعنې بهتر دا دي چې وه نۀ خوړلے شي- (فتاوىٰ رضويه، 339/20 ملخصاً)

حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: د چهنګا پۀ باره کښې اِختلاف دے چې دا مهے دے او که نۀ؟ پۀ

دې وجه باندې د دې حِلَّت او حُرمَت (يعنې د دې په حلال او حرام کيدو) کښې هم اِختلاف دے په ظاهره د دې شکل د مهي په شان نۀ معلوميږي بلکې يو قِسم له چمچے معلوميږي لهذا د دې [د خوړلو] نه بچ کيدل پکار دي- (بهارِ شريعت، 325/3، حصّه:15)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! که مرغۍ وي او که بل څه ژوندے څيز ټول د الله پاک تسبيح کوي او د هغۀ په ياد کښې مصروف وي لکه څنګه چې په 15 سيپاره د سورۀ بني اِسرائيل په آيت نمبر 44 کښې د الله پاک اِرشاد دے: ﴿وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او يو څيز هم داسې نشته چې د هغۀ پاکي نۀ بيانوي-

د دې آيت مبارک لاندې مولانا سَيِّد محمد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهما فرمائيلي دي: هر يو ژوندے څيز د الله پاک تسبيح کوي او د هر څيز تسبيح د هغه د حيثيت مطابق ده-

صدرُ الافاضل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: مفسرينو وئيلي دي چې د دروازې د پرانستو اواز او د چت چغار دا هم تسبح وي د دې ټولو تسبيح "سُبْحٰنَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ" ده- (خزائن العرفان، پ15، بنی اسرائیل، تحت الآیة:44، ص533)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** مرغۍ او ځاروي ټول په خپلو خپلو ژبو کښې د الله پاک تسبيح بيانوي-

## په ځنګل کښې زما نه علاوه ذِکر کوونکے څوک نشته

حضرت سَيِّدُنا موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام په يو ځنګل د الله پاک د ذِکر کولو او روان وو چې ناڅاپه د هغوئي په زړه کښې خيال راغلو چې کيدے شي په دې ځنګل کښې به زما نه علاوه څوک هم د الله پاک ذِکر کوونکے نۀ وي- الله پاک ټولو مرغو، درندګانواو نورو ځناورو ته حُکم اوکړو چې ټول د خپل خپل ذِکر اواز تيز کړئ، نو هر طرف ته د مرغو، د درندګانو او نورو ځناورو د ذِکر اوازونه تيز شول، حضرت سَيِّدُنا موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام فوراً په دې معامله باندې پوهه شو او په سجده پريوتو او د الله پاک نه يې معافي وغوښتله او عرض يې اوکړو: اے الله! آيا په زمکه کښې دننه هم ستا ذِکر کيږي؟ الله پاک اِرشاد وفرمائيلو: "اِضۡرِبۡ بِعَصَاعَلَى الۡاَرۡضِ" يعني عصا (اَمسا) زمکې ته راواچوه- سَيِّدُنا موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام چې خپله اَمسا زمکې له راواچوله نو زمکه وشليده او د هغې نه جوش وهوونکې اوبۀ په نظر راغلې، بيا حکم وشو چې دا هم په اَمسا ووهه، سَيِّدُنا موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام هغه هم په اَمسا ووهلې نو د اوبو سينه وشليدله او په هغې کښې يو تور کاڼے راښکاره شو، د الله پاک په حکم چې هغه هم په اَمسا ووهلے شو نو هُغه کاڼے دوه ټوټې

شو، د هغې نه يو شين ځناور راووتلو کوم چې د الله پاک ذِکر کولو- سَيِّدُنا موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د هغه نه پوښتنه اوکړه: ستا عمر څومره دے؟ هغه ووئيل: 300 کاله- وه يې فرمائيل: ستا کار څۀ دے؟ وه يې وئيل: آيا د الله پاک د ياد نه هم څۀ اهم کار شته؟ اے موسیٰ [عَلَيْهِ السَّلَام] ! زۀ هر وخت د الله پاک پۀ ياد کښې مشغول اوسم، ما ته پۀ ورځ کښې دوه ځله اوبۀ پيش کولے شي خو زۀ يې د دې ويرې نه نۀ څښم چې هسې نۀ داسې وشي چې زۀ پۀ اوبو څښلو کښې مشغول شم او هُغه وخت ما له مرګ راشي او داسې زۀ د الله پاک ذِکر پرېږدم او د غفلت پۀ مرګ مړ شم- دا يې چې واوريدل نو هُغه شين ځناور غائب شو، کاڼے د اوبو نه لاندې لاړو او زمکه واپس خپل اصلي حالت ته راغله- (انيس الواعظين، ص64)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو وکتل چې پۀ زمکه کښې دننه اوسيدونکے مخلوق هم د الله پاک ذِکر کوي- پۀ دې باره کښې يوه بله واقعه ستاسو پۀ خدمت کښې وړاندې کووم:

## دا چينجے به د څۀ د پاره پيدا کړے شوے وي؟

سيِّدُنا امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل کوي چې د الله پاک نبي حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام پۀ خپل کور مبارک کښې د زبور شريف تِلاوت کولو چې د خاورې د يو سوړې نه چينجے راووتو، د هغوئي پۀ ذِهن

کښې خيال راغلو چې پته نۀ لګي چې دا چينجے به د څۀ د پاره پيدا کړے شوے وي؟ د الله پاک پۀ حکم هٔغه چينجے د الله پاک نبي حضرت سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ته مخاطِب شو او وه يې وئيل: اے د الله پاک نبي! پۀ ما باندې چې کله ورځ راځي نو الله پاک زما پۀ زړۀ کښې دا خبره اچولې وي چې زۀ به د ورځې روزانه زر [1000] کرته "سُبْحٰنَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَکْبَرُ" لولم- اے د الله نبي! زما شپه داسې تيرېږي چې د الله پاک پۀ کَرم او د هغه پۀ حُکم زۀ هره شپه زر [1000] کرته دُرودِ پاک "اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّم" لولم- اِرشاد وفرمايئ چې زۀ ستاسو نه څۀ استفاده وکړم او څۀ فيض حاصل کړم؟ د چينجي خبرې چې يې واوريدلې نو سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک نه ويريدو او توبه يې کړله او هم پۀ هغه يې باور اوکړو- (مکاشفة القلوب، ص10)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** دې سور چينجي خو مونږ وجړقولو چې هغه د ورځې روزانه زر [1000] کرته "سُبْحٰنَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَکْبَرُ" او هره شپه زر [1000] کرته دُرودِ شريف لولې او زمونږ حالت دا دے چې مونږ روزانه زر [1000] کرته خو څۀ کړې چې 100 کرته هم دُرُود شريف نۀ لولو- که مونږ ته چرته څۀ فضول محفل يا د ګپ شپ ماحول ميلاؤ شي نو پۀ ګينټو ګينټو پکښې نۀ تنګيږو او پۀ خلقو پورې بنه ټوقې کوو، د لطيفو د

پاره زمونږ سره ښه ډېر وخت وي، که چرته راته تې وي ميلاؤ شي نو درې
درې ګينتې پرې فلمونه او ډرامې ګورو او د ريموټ په ذريعه مختلفې چينلې
بدلوو او نوې نوې ډرامې لټوو، که د سندرو سازونو موقع ميلاؤ شي نو بغير
د تنګيدو نه يې په ګينټو ګينټو اورو حالانکې په سندرو اوريدو باندې
سخت وعيدونه دي- [1]

## د ګپ شپ محفلونه او دروغ

آه! د ګپ شپ په محفلونو کښې د خلقو د خندولو د پاره ښه ډېر دروغ
وئيلے کيږي حالانکې په حديثِ پاک کښې دي: هلاکت دے د هغه چا د
پاره کوم چې د خلقو د خندولو د پاره دروغ وائي- (ترمذی، 4/142، حديث:2322) د
بده مرغه نن سبا ډېر خلق د دروغو په افت کښې اخته په نظر راځي- ياد ساتئ
چې يواځې د خندولو د پاره دروغ نهٔ وئيلے کيږي بلکې په نورو معاملو کښې
هم ښه ډېر دروغ وئيلے کيږي- اوس خو حالت دا دے چې په دروغو وئيلو
کښې هيڅ قِسمه ويره او شرم نهٔ محسوسيږي، دروغ وئيل يو فن ګڼلے شي- په
اوسنۍ زمانه کښې چې څوک يو ګاهک ته دروغ ووائي، په خوږو پستو خبرو

[1] ... د الله پاک د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد دے: زهٔ د موسيقۍ د آلاتو ماتولو د پاره راليږلے شوے يم- (کنز العمال 8/99، حديث:40682 مختصراً)

کولو او پهٔ دوکه سودا خرڅه کړي نو هغه کامیاب سیلز مین ګڼلے شي- که کوم خوار پهٔ تجارت کښې رښتیا وائي او پهٔ مال کښې موجود عیب څرګندوي او خرڅوي یې نو خلق هغه بیوقوفه ګڼي او پهٔ هغهٔ پورې ملندې کوي- **نَعُوذُ بِاللہ**! نن سبا خلقو دا ذِهن جوړ کړے دے چې "د دروغو وئیلو نه بغیر ګزاره نهٔ کیږي "-

## د دوو مهیانو نیوونکو حکایت

پهٔ مخکښنۍ زمانه کښې یو مؤمِن او یو کافِر د مهیانو د ښکار د پاره ووتل، کافِر د خپلو دروغژنو معبودانو نومونه واخستل او ښه ډیر مهیان یې ونیول او د مهیانو یو ډیرے یې جوړ کړو- مؤمِن د الله نوم اخستو او جال یې ویشتو خو لاس ته یې هیڅ رانغلل- ماښام شو صرف یو مهے پکښې وانښتو، هغه هم پهٔ ټوپونه شو او اوبو ته پریوتو- مؤمِن خالي لاسونه راواپس شو او کافر شکرۍ ډکه کړه او واپس راغلو- پهٔ مؤمِن باندې ماموري (یعنې مقررې) فرښتے افسوس شروع کړو، الله پاک هُغه فرښتے ته پهٔ جَنَّت کښې د مؤمِن محل (او عالیشان ځائے) وښودلو نو هُغې فرښتے بے اِختیاره ووئیل: پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! دې عظیم الشان محل ته د داخلیدو نه پس به دې مسلمان مچي مار ته د مهیانو پهٔ ښکار کښې د ناکامۍ پهٔ مصیبت بالکل پروا نهٔ وي او کله چې الله پاک فرښتے ته پهٔ دوزخ کښې د کافِر ځائے وښودلو نو هغې

ووئیل: پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! د عذاب ځائے ته چې کله دا راورسيږي نو دهٔ ته به د (ډيرو مهيانو نيولو ) د دُنيا (عارضي) خوشحالي هيڅ فائده نهٔ رسوي- (تنبيه الغافلين، ص136)

## که ګاهک خرابيږي نو خراب دې شي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! که فرض کړئ پهٔ رښتياؤ وئيلو ګاهک خرابيږي نو خراب دې شي خو چې د الله پاک او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره زمونږ د محبت رشته ماته نشي- ياد ساتئ چې که چرې پهٔ رښتياؤ وئيلو سره پهٔ کاروبار کښې کمے راځي نو هيڅ خبره نهٔ ده، پروردګارِ عالم کوم چې دواړه جهانونه پالي، د څو پورې چې زمونږ ژوند دے مونږ له به هم رزق راکوي، وږي به مو نهٔ پريږدي- که څوک پهٔ رشوت اخستو، د سود پهٔ لين دين کولو، پهٔ کاروبار کښې پهٔ دروغو وئيلو او د ملاوټ پهٔ مال خرڅولو غټې غټې بنګلې ولې جوړې نهٔ کړي او ښه ښه ګاډي ولې وانخلي مونږ له د الله پاک د رحمت نه مايوسه کيدل نهٔ دي پکار او نهٔ دا ګمان کول پکار دي چې الله پاک زمونږ د حال نه نا خبره دے- ياد ساتئ چې الله پاک مونږ ازمائي، ډير زر به مونږ له هم مرګ راځي او هغه له هم چا چې پهٔ حرامو ذريعو اِختيارولو ښه ډير مال ګټلے دے خو که الله پاک وغوښتل نو د هغهٔ پهٔ مقابله کښې به زمونږه معامله د رشک قابله وي-

# د رشک قابل څوک؟

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! پهٔ دُنيا کښې ډير مال ګټونکے د قابلِ رشک نهٔ دے، د رشک قابل صرف هغه دے کوم چې خپل اِيمان قبر ته سلامت يوسی -

ځائے پهٔ ځائے د اِيمان ډاکوان موجود دي او شيطان پهٔ قِسما قِسم طريقو پهٔ اِيمان باندې حملې کوي، د خپل اِيمان حفاظت کول يوه ډيره لويه مسئله ده- غفلت، دُنيا داري، صرف د دُنيا حاصلول د خپل ژوند مقصد ګڼل، د خرابو خلقو پهٔ صحبت کښې اوسيدل وغيره د دومره ډيرو افتونو پهٔ موجودګۍ کښې چې اِيمان سلامت پاتې شي نو دا ډيره لويه خبره ده- افسوس! ډير افسوس چې زمونږ سره د خپل اِيمان د سلامتيا فِکر نشته ځکه که د اِيمان د سلامتيا فِکر راسره وے نو مونږ به د ګمراه، بے دِينه او د خرابو خلقو د صحبت نه لرې تښتيدو لکه څنګه چې مونږ ته د دې حکم هم راکړے شوے دے پهٔ 7 سيپاره، د سورۀ اَنعام پهٔ آيت نمبر 68 کښې د الله پاک اِرشاد دے:

وَ اِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٨﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او که چرې شيطان ستا نه هير کړي نو چې درياد شي نو [د هغې نه پس] ظالمانو سره مهٔ کښينه-

د دې آيت مبارک لاندې مفسرين کرام فرمائي: دلته د ظالمانو نه مُراد کافران، مُبتدِعِين (يعني ګمراه او بے دينه) او فاسقان دي- (تفسيرات احمديه، پ7، الانعام، تحت الآية:68، ص388)

کيدے شي چې د داسې خلقو په صحبت کښې په اوسيدو دُنيا خو ښه شي خو اخرت برباد شي بلکې بعضې وخت دُنيا هم بربادېږي-

## دا ورځې مو د خپل غفلت په وجه ليدلې دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دُنيا محبت، د دُنيا مال او دولت د لالچ او د غفلت نتيجه ده چې نن مسلمانان تباه او برباد شوي دي، که د مسلمانانو ژبه د الله پاک په ذِکر باندې لـمده اوسيده او د هغوئې زړونه د الله پاک په ياد باندې معمور اوسيدل نو دا نوبت به نۀ راتلو خو افسوس چې معامله د دې اُلټا ده- مخکښې چې به اِنسان سترګې وغړولې نو سحر وختي به يې د الله پاک نوم په غوږونو باندې لګيدو خو اوس حال دا دے چې اِنسان چې کله سحر سترګې وغړوي نو د فلمي سندرو اواز د هغۀ غوږونو ته راځي، مخکښې چې به اِنسان سترګې وغړولې نو پاک شکلونه به يې ليدل او اوس په موبائل باندې د بے حيا زنانؤ مخونه ويني- ياد ساتئ چې د بد نظرۍ سزا ډيره خطرناکه ده-

## سترګې به د وور نه ډکې کړے شي

منقول دي: څوک چې خپلې سترګې په حرام نظر سره ډکوي د قيامت په ورځ باندې به د هغۀ سترګې د وور نه ډکولے شي- (مکاشفة القلوب، ص10)

## پۀ غوږونو کښې وِيلې کړے شوې اوسپنه

د حضرت سَيِّدُنا انس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه منقول دي، کوم ګس چې د سندرو والا سره کښيني او سندره اوري د قيامت پۀ ورځ به الله پاک د هغۀ پۀ غوږونو کښې وِيلې کړے شوې اوسپنه اچوي- (کنز العمال، 96/15، حديث:40662)

## پۀ خپل نازک او کمزورو وجودونو باندې رحم اوکړئ

اے کمزورو او بے وسو اِسلامي ورونړو! پۀ خپلو هُغه نازکو او کمزورو وجودونو باندې رحم اوکړئ کوم چې نۀ ګرمي برداشت کولے شي او نۀ يخني، معمولي د سر درد هم نشي زغملے، کوم چې معمولي شان تبه هم ګډه وډ کوي نو داسې وجودونه به د دوزخ وور څنګه برداشت کړے شي! آه! معمولې چينجے چې جامو ته ننوځي نو اِنسان لړزوي، چې ميږے يې وچيچي نو اِنسان پۀ ټوپونو شي نو بيا به د مار او د لړم ټکونه څنګه برداشت کړے شي؟ يقيناً چې برداشت به يې نکړے شي لهٰذا د الله پاک د رحمت دروازې برسيره دي، مونږ ټولو له پۀ شريکه د هغه پۀ دربار کښې توبه کول پکار دي او هُم د هغه نه د خير توفيق

غوښتل پکار دي- یاد ساتئ چې الله پاک رحم او کرم او فضل کوونکے دے او هغه سوالګرو ته د هغهٔ د غوښتو نه ډیر زیات عطا کوي-


*ہم تو مائل بہ کرم ہیں کوئی سائل ہی نہیں*
*راہ دِکھلائیں کسے راہ روے منزل ہی نہیں*

الله پاک دې مونږ ټولو ته د خپل یاد او د خپل ذِکر توفیق راعطا کړي، زمونږ د ټولو د زړونو نه دې د غفلت خیرے او زنګ لرې کړي او د خپل او د خپل محبوبِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ یاد دې زمونږ د زړونو نه آئینه جوړه کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محله سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net